# دموکراسی او دیکتاتوری

## ډیموکراسي - په ګډه پریکړه کول

ډیموکراسي ، یعنې حاکمیت د خلکو په لاس کې یواصطلاح ده چې خلک فرصت لري په مهمو پریکړو کې برخه واخلي. خلک په ټاکنو کې د رایې ورکولو له لارې د نفوذ کولو فرصت ترلاسه کوي. ډیموکراسي د حکومت له نورو ډولونو لکه دیکتاتوری څخه توپیر لري ، چیرې چې حکومت د یو شخص له لورې اداره کیږي. په ناروې کې حکومت د ډیموکراسۍ په نوم یادیږي. د دې معنی دا ده ، هرڅوک چې په ناروې کې اوسیږي حق لري چې خپله رایه ورکړي چې ټولنه باید څنګه وي. ماشومان او ځوانان باید چې خپله عقیده، نظر په ازادانه ډول څرګنده کړي اود هغوي نظر واوریدل شي.

ډیموکراسي له دوو یوناني کلمو څخه جوړه شوې چې د ډیموسمفهوم خلك او د کراسی , د قدرت د نظام او حاکمیت په مفهوم اخیستل شوې ده. د دموکراسۍحکومت فکر 2،500 کاله مخکی په اتن کی منځته راغئ. په ناروې کې ، موږ مختلف سیاسي ګوندونه لرو چې د ټولنې څرنګوالي په اړه مختلف نظرونه لري. کله چې پارلماني ټاکنې وي ، نو د ناروی ټول هغه اوسیدونکي چې عمر یې له 18 کالو څخه پورته وي کولی شي هغه ګوند ته رایه ورکړي چې دوی ورسره ډیر موافق وي.



*Illustrasjon: Adobe Stock Mst3r.*

## د وینا ازادي

په یوه ډموکراتیک سیستم کې د وینا ازادی خورا ډېر اهمیت لري. دا ، د وینا ازادی مفهوم دا دي چې خپله عقیده، نظر او رایه په ازادانه ډول څرګنده او یا ولیکي، او هیڅوک د خپل بیان او فکر له امله چې څه وایې او څه فکر کوي ،باید مجازات نشي . له ماشومتوب څخه ، موږ د افکارو ، احساساتو او نظر څرګندولو زده کوو. په ورته وخت کې ، دا مهمه ده چې موږ باید زده کړه وکړو چې باید د نورو کسانو  نظرېې  چې زموږ څخه توپیر لري احترام وکړو.. لکه څنګه چې تاسو وده کوئ ، ستاسو نظرېې به په تدریج سره په پام کې ونیول شي.

## ډیموکراسي - آزاده رسنۍ

په ډیموکراسۍ کې ، ډله ایزې رسنۍ د مختلف نظرونو وړاندې کولو لپاره کارول کیږي. په ناروې کې سیاسي ګوندونه خلکو ته د رسیدو لپاره مختلف رسنۍ کاروي ، په ځانګړي توګه مخکې له دې چې ټاکنې ترسره شي. کله چې سیاست وال پدې اړه بحث کوي چې څنګه ټولنه غواړي موږ په تلویزیونونو ، په ورځپاڼو ، راډیو او انټرنیټ کې تعقیب کولی شو.



*Illustrasjon: Adobe Stock MicroOne.*

## دیکتاتوری - حاکمیت د محدود شمېرکسانو په لاس

ځینې هیوادونه استبدادي حکومت لري چې د دیکتاتورۍ په نوم یادیږي. په دیکتاتوری کې حکومت عموما د یو شخص یا د محدود شمېرکسانو له لورې اداره کیږي او په یواځیتوب د ټول هېواد ځواک په لاس کې اخلي او پریکړه کوي چې څنګه هیواد رهبري شي. د هغه چا سره چې هیواد اداره کوي مخالفت منع دی . هغه خلک چې د خپل بیان او فکر له امله څه وایي یا لیکي که چېرې د چارواکو له طرفه خوښ نه شي، تعقیب او زندانی کېږي. ځینې د دوی د باورونو له امله وژل کیږي.

د دیکتاتورۍ مختلف ډولونه ذکر کول معمول دي دا پدې پورې اړه لري چې واکمنان څومره (یا څوک) واکمن دي او خپلواکۍ څومره محدود دی:

- که چیرې په یو دیکتاتوری کې واک په یو کس کې متمرکز وي نو هغه په یواځې توب د ټول هېواد ځواک په لاس کې اخلي ، موږ کولی شو د یوازی توپ دیکتاتورۍ او یا د یو استبداد په اړه وغږیږو ، د مثال په توګه. د آدولف هیتلر له آلمان ، یوسف استالین له اتحادشوروی کې\ا و فرانسیسکو فرانکو له اسپانیا نه کولی شو د وخت د دیکتاتورانو په توګه یادونه وکړو.
- که چیرې ځواک په څو خلکو کې متمرکز وي ، موږ کولی شو د یوجمعي دیکتاتورۍ او یا د یو الیګارشی په اړه وغږیږو ، لکه په ډیری هیوادونو کې چې یو پوځي رژیم او یوګوند لري.

## دیکتاتورۍ - یوازې یو غږ اوریدل کیږي

په دیکتاتوری هیواد کې د ډله ییزو رسنیو د دیکتاتورۍ مقاماتو تر کنټرول لاندې دی او رسنې ورځپاڼې، راډیو او تلویزیون یوازې هغه څه چې چارواکي غواړي خلکو ته وایي.هیڅ

څوک حق نه لري چې خپله عقیده، نظر او رایه په ازادانه ډول څرګنده کړي. دچارواکې له خوا ډېر موضوعات سانسور کېږي.